د افغانستان اسلامی جمهوریت

د لوړو زده کړو وزارت

اراکوزیا د لوړو زده کړو موسسه

د ښوونې او روزنې پوهنځی

# اعلی حضرت شاه امان الله خان او د افغانستان خپلواکي

لیکونکي: محمدولي ولي د پښتو څانګې استاد

کال: ۱۳۹۹

# اعلی حضرت شاه امان الله خان او د افغانستان خپلواکي

که څه هم د هېواد تاریخ مو د پرمختګ او زوال ډېرې لوړې ژورې تجربه کړې دي، خو بیا هم د دې تاریخ په لمن کې داسې ورځې او کلونه تېر شوي چې د پرمختګ او تمدن توغ مو د نړۍ په تندي ځلېږي. سره له دې چې معتبر اسناد ګواهي لي چې د افغانستان معاصر تاریخ له ټولو ستونزو، کړونیو جګړو او د واک پر سر شخړو سره سره په خپله غېږ کې یوه ځلانده دوره پاللې چې د دوو روښاندو غورځنګونو (د لومړي مشروطیت غورځنګ او د دویم مشروطیت غورځنګ) مېراث دی او د شاه امان الله خان له واکمنېدو سره یې تر یوه ځایه ارمانونه وختل.

نن چې موږ تر هغو وروسته دوره کې د تاریخي پېښو په لاره روان یو، دا مو باید په زړه وي چې د ودې په لور د دې جریانونو د تګ تر شا یوه روښانه ماضي ولاړه ده. نن چې موږ اساسي قانون وایو، ملي یووالی یادوو، د بیان آزادي او ولسواک حکومت خبره کوو، ټول یې د یوه تاریخي بنسټ میراث دی چې موږ یې نن د کمزورۍ او هسکوالي په بڼو وینو. د دې غورځنګ اصلي بنسټوال مو باید هېر نشي. د هر اوسني پرمختګ تر شا مو یو تاریخ دی؛ اوسنی نسل مو باید خپل ربښتیني اتلان چې د زړه په وینو یې لاره راته هواره کړې ده، له یاده ونه باسي.

شاه امان الله د ګران افغانستان د معاصر تاریخ په څېرکي کې یوه نه تکرارېدونکې خبره ده. څرنګه چې شاه امان الله خان هېواد ته ستر خدمتونه کړي دي او له بلې خوا یو زلمی او پر وطن مین باچا و، پر دې تکیو هم باید د ده د شخصیت او هغه ټول نظام په اړه سترګې پټې نه کړو، چې ده یې مشري کوله.

د غازي امان الله خان آزادي پالي او خپلواکي غوښتونکي افکار د سیمې او نړۍ په کچه د پان‌اسلامېزم او د اسلامي هېواد د روښاندي او خپلواکي غوښتونکو غورځنګونو په افکارو کې کتلای شو. اسلامي یووالی یا پان اسلامېزم چې د اسلام له هماغه پیله و، په بېلابېلو چټکو او ټکنیو بڼو به راڅرګندېده. او بنسټ یې شېخ احمدروحي سیدجمال الدین افغان او ملګرو کېښود. هغه غوښتل په روښاندې د ښکېلاک، فیوډالېزم او بورژوازۍ ایډیالوژۍ مخه ونیسي. د پان‌اسلامېزم بنسټ د یوه خلیفه تر واک لاندې د اسلامي هېوادونو ترمنځ یووالی او اصلاً له بریتانوي امپراتورۍ سره، چې هغه وخت څواکمن ښکېلاکګر و، مبارزه وه.

هرڅه چې وو، د افغانانو او ترکانو اړیکي د پان‌اسلامېستي او انګرېز ضد افکارو د پراختیا لامل شوې. څرنګه چې دا مهال انګرېزان له محور څواکونو سره په جګړه وو، په تېره چې هغه مهال په بالکان کې د عثماني خلافت او ایټالیا ترمنځ جګړه روانه او د ترکیې د دفاع په ملاتړ د افغانانو وینې وخوټېدې. او مولوي صالح محمدکندهاري وویل:

ښه فرصت دی خدای راکړی

ښه موقع دی پیدا کړی

چې کفار سره اخته دي

په سرو وينو آغشته دي

په دې مهال په ترکيه کې د پان‌اسلاميزم تر سيوري لاندې د محمودطرزي ليکنې، چې په سراج الاخبار کې چاپېدې، د وګړيو د هيجانيتوب په پراخولو او زياتولو کې ستر نقش لاره.

د شلمې پېړۍ په پيله کې چې انګرېزي ښکېلاک د هندوستان په خاوره کې مخ په پراخېدو و، د اروپا صنعتي اوښتون او مدنيت په ختيځ کې د احمدشاهي ټولواکۍ ختيځې پولې نيولې وې، افغانستان هم د آمو او بخارا له شمالي او سيمو او په لوېديځ کې له قاجاري پارس هېوادونو سره اقتصادي اړيکې پراخې کړې وې چې له دربواړو هېوادونو سره د سوداګرو تګ راتګ و د سوداګريزو مالونو راکړه ورکړه روانه وه.

خو په دې منځ کې افغانانو په ښارونو او دربارونو کې په نيمه فيوډالي شرايطو کې ژوند کاوه، همدارنګه په کليو کې يې په بزګرۍ او لاسي صنايعو او د څارويو په ساتنې سره چې پر له فيوډالي پړاو مخکې دوره باندې ولاړ وو، ژوند کاوه او له دربار او ښاري بازارونو سره د کليو سياسي اړيکې پيکه وې.

دا وګړي په وجود څومره غني دی

خو په برخه چوارګر دی، تاواني دی

تار تار پروت دی، چا راټول نه کړ سايله

د پښتون ولس ګرېوان د لېوني دی

په دې حال کې نه خواکمن مرکزي دولتونه وو او نه هم هغه مرکزي يووالی چې د سدوزي احمدشابابا تر وفات وروسته راغلی و؛ ځکه چې شهزادګان او د واک نوي مدعيان تل له يو بل سره لاس و ګرېوان وو او يو متحدالمرکزه احمدشاهي هېواد له بېلتونه او وېش سره مخ و او د هېواد وضع ورځ تر بلې لاډېره د ښکېلاک تورې ته وربرابرېده.

د مشروطيت غورځنګ په همداسې اړودوړ کې پيل شو. د لومړي مشروطيت غورځنګ حرکت چې په (۱۳۲۳ سپوږميز) کې يې د سراج الاخبار په انجمن سره بنسټ ايښودل شوی و، چې په پای کې په ۱۳۲۷ س کې د يوې ډلې افغانو روڼاندو په زنداني کولو او وژنه پايته ورسېد.

باغ د ګلو به سمسور وي موږ به نه يو

د بلبلو به پرې شور وي موږ به نه يو

د دې حرکت مبارزان په خاورو او وينو کې ولوغړېدل او د ملي مبارزې په ډګر کې قرباني شول:

بناء کردند خوش رسمي، به خاک و خون غلتيدن

خدا رحمت کند آن عاشقانِ پاک طَنيَت را

خو دا چيغې او سورې غلې نشوې او د ولس او وطن د مينې اور بل پاتې شو.

زموږ په روښاندو او وګړو کې د ملي ويښتيا څپې او د خپلواکۍ غوښتنې غورځنګونه روان وو. په د شلمې پېړۍ په دويمه لسيزه کې د هېواد ټولنيزه وضع ډېره ښه وه، ځکه نو دې غورځنګ ته يو ځل بيا په پښو درېدو لپاره مناسبه موکه په لاس ورغلې وه؛ د ملت د بچيانو په زړونو کې دا پوله او مزې بيا وغځېدل چې په پای کې دويم مشروطيت رامنځته شو. د دويم مشروطيت غورځنګ چې خپلې بشپړتيا ته ورسېد او په پايله کې يې د افغانستان خپلواکي او د امان الله خان د دورې د افکارو د بدلون او نوې ادارې کړنلاره رامنځته شوه چې يو څه خپلو موخو ته ورسېدل.

د هېواد په تاريخ کې دغه دوره د افغانستان د ټولنيز تاريخ مهم ځپرکی دی چې د خپلواک افغانستان په مدني تشکيلاتو کې يې دغسې برخه واخيسته:

لومړی: د خپلواکي په بيااخيستو کې تر نورو مخکې او د خپلواکۍ په جګړه کې لاربنود او د ښکېلاک ضد وو.

دويم: د خپلواکۍ تر اخيستو وروسته يې نړۍ ته افغانستان يو خپلواک هېواد ورو‌پېژانده چې په دې توګه د ټولې نړۍ له هېوادونو سره د افغانستان سياسي اړيکې ټينګې شوې.

درېيم: په هېواد کې د اسارت د دود لغوه کول او د هغو د ريښو له منځه وړل.

څلورم: په ټول هېواد کې وطن د بچيانو د روزنې لپاره د معارف عامول، د ښوونځيو او مدرسو پرانيستل او د جريدو خپراوی او د ژبې په وده لاس پورې کول.

پينځم: په دولتي ادارو کې چې د د دندو په مشخصولو سره نوي تشکيلات او د ماليه‌ورکونې سيستم بدلول او د د نويو روشونو د محاسبو پر بنسټ د ګمرکونو او نورو مالي او حسابي ادارو بنسټ ايښودل او د هېواد د بوديجې ترتيب.

شپږم: د لويو دوديزو ملي لويو جرګو جوړول او د دولتي او ملي شوراوو د ټاکنو د قوانينو خپرول.

اووم: د مسؤولې کابينې جوړول او د درې‌ګونو قوو تفکيک او همدارنګه د وزارتونو د چارو د څار د مرکزونو ټاکل.

اتم: د پوست، ټېليګراف، ټېليفون، موټر، الوتکې، د موټرلارو، ښارجوړونې او وطني مصنوعاتو غوندې د نوي مدنيت د اړينو بنسټونو دودول.

نهم: د لوړو زده‌کړو لپاره بهرنيو هېوادونو ته د محصلينو لېږل.

لسم: په هېواد کې د وګړيو د حقونو، دولت او نورو قوانينو پر بنسټ د اداري او قضايي چارو د د ترسراوي او د قانوالي روحيې رامنځته‌کولو لپاره د اساسي قانون جوړول او خپرول.

دا ټول نېک کارونه د امان الله خان د دورې پيل دی چې د هغو انساني او ناپيېلي قضاوت او تاريخ هېرولای نشو.

د لومړي مشروطيت په موخو په دويمه ماده کې ملي حاکميت او د قانون حکم مطرح و. امان الله خان د خپلې باچاهۍ په لومړيو کلونو کې په جديت او اخلاص کار وکړ چې زياتره اړين قوانين يې په څو کلونو کې ترتيب او د نفاذ حکم يې صادر کړ. د دې لپاره يې د دولت په شورای کې د بدري بېګ او مولوي عبدالواسع کندهاري تر نظر

لاندې د قوانينو د جوړولو يو مرکز پرانيست. د دې ډلې د نظر پراختيا او انقلابي حرکتونو چې په خپله امان الله خان يې عامل او اوچتوونکی و، تر يوه بريده د نړۍ پام وروا ړاوه چې د سوسياليستي حکومت لومړني جوړوونکي لېنن يې په اړه ويلي وو: د ختيځ يو واکمن شهزاده نن د انګلستان تر کارګرې کابينې مترقي دی.

امان الله خان چې د هېواد د واک پر ګدۍ کېناست، پر ايران انګرېز دومره واکمن شوی و، چې د شوروي دولت استازی قره‌خان په ايران کې بندي او انګرېزانو ته تسليم وسپارل شو او يو کال وروسته يې بل استازی «کولو ميتسوب» په ايران کې انګرېزانو او سپين ګارد اعدام کړ. همدارنګه په ايران د انګرېز د واک په زور د ۱۹۱۹ز معاهده د صدراعظم وثوق الدوله له لوري پر ايران هېواد ورتپ شوه، چې له مخې يې د ايران اردو د انګرېزي افسرانو تر نظر لاندې او د ايران بهرنيو چارو وزارت د انګرېز سلاکارانو له لوري کنټرولېده او د ايران ګمرکي ماليې په انګرېز مامورينو پورې اړوندېدې. پر ايران د انګرېز دې پراخ واک او د نظامي ځواکونو شته‌والي له ختيځ، سوېل او لوېديځه د افغانستان سياسي او نظامي کلابندي بشپړه کړه، چې که د افغانانو او انګرېزانو ترمنځ جګړه پېښه شي، پر افغانستان له دې درو جبهو څخه د انګرېز اردو اور بلاوه. په تېره چې روسانو پرېکړه کړې وه چې د روس دولت په پخواني قلمرو کې د ننوتو له لارې د کلابندۍ دايره بشپړه کړي، يعنې له چترال تر بلوڅستانه او له ايرانه تر بخارا او پاميره خپل واک وغځوي او له افغانستانه غرنی کلا جوړه کړي. څکه انګرېز دولت دا مهال آذربايجان او د هغو د نفتو چينې چې پخوا د تزاري روسيې د لېږدرالېږد رګونه پرې چلېدل، تر لاس لاندې کړي وو او پوځونه يې له باکو او مشهده د عشق‌آباد په لوري خوځېدلي وو.

انګرېز استازو د بخارا دربار کې پر معاهده د بخارا د باچا لاسليک اخيستی و چې له مخې يې په راتلونکي کې د بخارا او خيوې واک د انګرېز لاسته لوېده.

په همدې سياسي او نظامي وضع کې له افغانستان سره په پوله هېوادونه (شوروي او ايران) د انګرېز په واک کې وو، انګرېز د افغانستان تر غوږ لاندې (په هند کې) يوه لويه درې لکه او څلوېښت زره اردو په ټولو عصري وسايلو، چې هوايي جنګي ځواک هم ورسره و، سمبال کړې وه، خو دلته د افغانستان دولت په ۱۸ کلونو کې يو مخ په کورنيو سمسمکيو او د افغانستان د نړۍ د پام راړولو لپاره په بهرنيو سفرونو بوخت و. د انګرېز افغان درېيمه جګړه کې شرايط همداسې وو، خو د خپل کور د آزادۍ لپاره له انګرېز سره جګړې ته د هېواد د مېړنيو هوډ او اراده پاخه وو، چې دا راته د نړۍ د زبرځواکونو په وړاندې په داسې سختو او حساسو شېبو کې د زموږ د وګړيو د همت، مېړانې او مقاومت نښې رابښيي.

تيت مې مه بوله غورځنګ راباندې مه کړه
زه په دې افتادګۍ کې لوی ګړنګ يم

پر سیمه او نړۍ او په تېره د هېواد ګاونډي سیمې، د داسې راغلي وضعې په شېبو کې د امان الله خان دوره د افغانستان د تاریخ په دورو کې یوه ځلانده او په یادپاتېدونکې دوره ده. دا دوره چې پر آزادۍ د مین، د انګرېز د ښکېلاک ضد او د افغانستان د خپلواکۍ ګټونکي شاه په واکمنېدو سره پیل شوه او د ټولنیز سمسمکي او د پوهنې د عاملو سره پرمخ تله. خو څرنګه چې په سیمه کې انګرېزان واکمن وو، په هر ډول حالاتو او شرایطو کې د افغانستان د خپلواکۍ له منځه وړلو لپاره هر ډول توطیې ته شنه ناست وو او هڅه یې کوله چې هر ډول کېږي د افغانستان خپلواکۍ ته ګوزار ورکړي. په داسې شرایطو کې په اسلامي، آسیاسي او افریقایي هېوادونو کې افغانستان په هغو د ګوتو په شمېر هېوادونو کې و چې په ۱۲۹۸ل کې یې خپلواکي واخیسته. هغه مهال هند، چې اوسنی پاکستان یې هم برخه وه، لا هند د انګرېزانو تر ښکېلاک لاندې و، چین هم د نړۍ د لویو ځواکونو د لوبو لوبغالی و او د کورنۍ جګړې په اور کې سوځېده، همدارنګه خونړي انقلاب او کورنیو جګړو د روسیې وضعیت هم خراب کړی و، په اسلامي نړۍ کې یوازې درو هېوادونو «ترکیې، عربستان او فارس» نسبي خپلواکي لرله، خو دې هېوادونو هغه مهال د افغانستان غوندې باثباته نظام نه لاره.

ترکیې د خپلواکۍ اخیستلو لپاره له لوېدیزو طرحو سره مقابله کوله، د سعود کورنۍ لا د عربستان پر ټوله خاوره واک نه و ټینګ کړی، که څه هم فارس (اوسنی ایران) په رسمي ډول خپلواک و، خو لوېدیزو ځواکونو تر نارسمي واک لاندې و او رضاخان (۱۹۲۵ز—۱۹۴۱ز) لا قاجاري واکمني، چې وروستۍ سلګۍ یې وې، له پښو غورځولې نه وه.

په همدې شرایطو کې د افغانستان زلمي شاه امان الله خان په ابتکار لاس پورې کړ او د افغانستان د خپلواکۍ غږ یې د نړیوالو غوږونو ته ورورساوه.

ز‌ه افغان یم زما روح افغانستان دی

غلامي زما ضمیر نه ده منلې

د زلمي شاه یو میراث د محمود طرزي او نورو مشروطه‌خواهانو د نویتابه (تجدد) افکار وو، چې له ظلم، مربیه‌توب، د کله‌منارونو له جوړولو، مېخ او فانې او نورو بې‌عدالتیو څخه تر پوزې راغلي وو او د یوه دغسې دولت د جوړولو هڅه یې کوله چې ټول وګړي پکې قانوني حقونه او وجیبې ولري.

شاه امان الله خان چې واک ته ورسېد، پر اسلامي مقام او دریځ د درېدو له امله د اولی‌الامر په توګه یې له انګرېزانو سره جهاد اعلان کړ او په پایله کې یې د هېواد خپلواکي وګټله. وروسته له هغه چې د عثماني خلافت په پرځېدو او ګوښه کېدو سره وضعیت بدل شو، شاه امان الله خان ته استثنایي موقعیت په ګوتو ورغی، د افغانستان د آزادۍ او خپلواکۍ په اعلانولو سره د پولې د پورې غاړې قبایل او د هند دنیمي لویې وچې آزادي غوښتونکو غورځنګونو د افغانستان د خپلواکۍ او د شاه امان الله خان د ټینګ هوډ ستاینه وکړه.

د افغان په ننګ مې وتړله توره

ننګیالی د زمانې خوشحال ختک یم

په زړه مو وي چې د خپلواکۍ په جګړه کې د شاه امان الله خان بریا، دی آزادي غوښتونکو ته په یوه الګو بدل کړ او د هند په نیمه لویه وچه کې د مسلمانانو او هندوانو د همکارۍ د منځته راتګ لوی لامل شو.

خو اصلي پوښتنه دا ده چې امان الله خان څه ډول اقدامات پیل کړل چې دی زموږ له نن او سبا سره تړي؟ عمومي برداشت دا دی چې د شاه امان الله خان د واکمنۍ لومړۍ لسیزه، چې د ډاکټر اشرف غني احمدزي په وینا، د افغانستان د معاصر تاریخ یو نابشپړ فصل جوړوي، یعنې د نوي دولت د جوړولو لپاره چې زلمي شاه کوم کارونه پیل کړي وو، موږ تر ده وروسته کلونو کې ونه کړای شول او دا نیمګړی فصل مو بشپړ نه کړ. تر ده وروسته چې کوم دولتونه واک ته ورسېدل، په وارو وارو یې د ده بنسټیزو طرحو ته سر ورښکاره کړ، خو یو داسې باثباته نظام یې رامنځته نه کړ چې ټول هېوادوال مو پکې هوسا او سوکاله ژوندوکړي.

واک ته د امیر امان الله خان تر رسېدلو وروسته د افغانستان دولت د لسو ورځو په تېرېدو سره د ۱۹۱۹ز د مارچ په ۳مه د برتانوي هند نایب الحکومه لارډچلمسفورډ ته لیک واستاوه او ویې ویل چې باید د افغان انګرېز دواړو هېوادونو د ۱۹۰۵ز په معاهده بیا غور وشي او همدارنګه افغانستان له انګرېز دولت سره د یوې نوې معاهدې لاسلیک کولو ته، چې پکې د دواړو خواوو مساوي حقونه په پام کې نیول شوي وي، تیار دی.

چې په یار پسې تر خان و جهان تېر وي

څوک کولی شي دا هسې مشقت؟

د افغانستان دولت د دې وړاندیز تر لېږلو وروسته د انګرېز دولت ځواب ته په تمه پاتې نشو او عملاً یې خپلواک او آزاد سیاست غوره کړ، یعنې شوروي دولت ته یې استازی واستاوه او له هغه دولت سره یې د سیاسي اړیکو جوړولو هڅې پیل کړې.

اې سرمست زلمیه پام کړه، بل راز شو د میخانې رنګ

غلی شانته انقلاب دی، بدلوي د زمانې رنګ

په همدې توګه یې د افغانستان د خپلواکۍ تر اعلانولو یوولس ورځې وروسته په بخارا کې یو کس استازی د اطلاعاتو د ترلاسې لپاره، یو ه میاشت وروسته یې یو سیاسي استازی شوروي دولت ته واستاوه. د دې پلاوي دنده دا وه چې له شوروي هېواد او د نړۍ له نورو دولتونو سره په اروپا کې سیاسي مناسبات ټینګ کړي او همدارنګه معاهدې لاسلیک کړي چې د نړۍ دغو دولتونو د افغانستان سفیران هلته ورشي او مېشت یې کړي.

شوروي دولت هم د نړۍ د لومړني هېواد و چې د ۱۹۱۹ز د مارچ په ۲۷مه یې د افغانستان خپلواکي په رسمیت وپېژندله. شاه امان الله خان د همدې کال د اپرېل په اوومه د شوروي د لوی رهبر لېنن په عنوان واستاوه او د اپرېل

په ۱۵مه یې د انګریزې هند د حکومت مکتوب هم ترلاسه کړ چې د نویو غوښتنو سره سم یې د یوه نوي سوداګریز تړون د اړینوالي خبرې راغلې وې.

خو انګرېزانو په همدې ګڼه‌لیک کې د سیاسي قرارداد د لاسلیک او د افغانستان د خپلواکۍ په رسمیت پېژندلو خبره کړې نه وه. د افغانستان دولت پرته له دې چې په لیکلي ډول ټینګار وکړي، په آرامۍ یې د هېواد ختیځو او سوېلي جبهو ته د لښکر د مجهزولو او لېږلو امر صادر کړ او اعلان یې وکړ چې موخه یې یوازې د هندي بغاوتونو د راغځېدو مخنیوی دی.

آزاد یم زیرېدلی بندګي کولی نشم

بنده د خپل مولا یم، که وم وم، که نه وم نه وم

په ماته کیښتۍ سپور یم طوفانونه مې دي مخکې

پر دې لاره یې بیایم، که وم وم، که نه وم نه وم

په بدل کې یې شاه امان الله خان د اپرېل په ۲۰مه لېنن ته بل لیک واستاوه او شوروي ته یې د «محمدولي خان» په مشرۍ د پلاوي د لېږلو د ارادې خبره وکړه، شوروي دولت دا وړاندیز ومانه او لېنن د ۱۹۱۹ل د مې په ۲۷مه د افغانستان دغې غوښتنې ته مثبت جواب ورکړ؛ په مسکو کې د لېنن د لاسلیک په ورځ ملي مجاهدینو او د افغانستان سپاهیانو د پکتیا په محاذ کې انګرېز پوځ مات کړی او د دښمن نظامي کلا یې په هماغه ورځ فتح کړې وه چې د افغانستان د خپلواکۍ جنډه یې ورباندې خړولې وه.

په دې وخت کې له انګرېز سره د جګړې تر پیل مخکې د افغانستان موخه دا وه چې افغانان او د افغانستان دولت د شوروي له لارې د نړۍ له دولتونو سره د سیاسي او سوداګریزو اړیکو راکړې ورکړې ور پرانیزي. په همدې اساس افغانستان له دې هېواد سره د مناسباتو جوړول په یوه مساعد فرصت بدل کړل او پرېکړه یې وکړه چې تر هر څه مخکې له انګرېز دولت سره خپل حساب کتاب پاک کړي. ځکه یې د انګرېزي هند د پولو په لوري پوځیان وخوځول. په داسې حال کې چې په ټولو امکاناتو، د اوسپنې پټلۍ، د موټرو لارې، د لېږد رالېږد وسایلو او منظمو مخابراتو سمبال د انګرېز ۳۴۰زره کسیزه اردو له چترال تر بلوڅستانه د افغانستان په پوله کې تر زر میله اوږده پوله کې خپلې فرقې د ۲۳ جنګیالیو،تجربه‌کارو او مشهورو جنرالانو تر امر لاندې ځای پر ځای کړې وه.

همدارنګه د ایران په مشهد کې د انګرېزي پوځ قوماندان جنرال ماتهن پر افغانستان د برید لپاره تیارسئ شوی و، ځکه چې پر هند د افغانستان تحمیل شوی برید د انګرېز خواک په مخ کې نانځکه هم نه و، ځکه که د هندوستاند امپراتورۍ دفاعي کربنه کې چاک راپیدا کېده د انګرېز تر پښو لاندې اور بلېده او په آسیا او افریقا کې د انګرېز ټولو مستعمرو چاودنه کوله.

دا داسې کار و چې افغانستان په یوازې ځان نشو کولای. څرنګه چې د ۱۹۱۹ز کال په فبروري کې د افغانستان د خپلواکۍ په مازې اعلانېدو او د همدې کال په اپرېل کې د هند د پولو په خوا د کابل سوقیاتو، سره له دې چې جګړه اعلان شوې نه وه او د دواړو دولتونو سفیران په ډهلي او کابل کې مېشت وو، لومړی د افغانستان په آزادو پولو (پښتونستان) کې په زرګونو افغانانو وسله واخیسته او جګړې ته تیار شول او وروسته د خلکو رهبران لکه حاجي صاحب ترنګزی او ملاصاحب چکنور له آزادو پولو جلال‌آباد ته راغلل.

همدارنګه د اپرېل په وروستیو کې په پښتونستان کې ملي هیجان راپورته شو او په پېښور ښار کې د «باړې» دودېرش کسیزه کمېټه جوړه شوه چې سل کسه انقلابي غړي یې لرل د افغانستان د استازي میرزا غلام حیدرخان (د افغانستان د پوسته‌خانې مشر) د موخې پر محور راټول شول او په مې میاشت کې د پېښور په شاوخوا کې د انګرېز پر ضد وسلوال پاڅونونه پیل شول؛ د افغانستان د دولت اعلامیې او د شاه امان الله خان مکتوبونه په ټوله پوله د انګرېز په ټولو نظامي کلیو کې وسلوالو ملېشو لاس په لاس ګرځول او ټول د جبهې له شا څخه پر انګرېزې پوځیانو برید ته څک ناست وو.

نسیم ووې د ګل غوږ کې : بدل شو د یارانې رنګ

غلې شانته انقلاب دی، بدلوي د زمانې رنګ

په همدې ډول د همدې کال د اپرېل له نیمایي څخه د افغانستان د آزادۍ غوښتنې او مبارزو د غږ انګازې په ټول پلن هېواد هندوستان کې ولګېدې. په لاهور کې خلکو پاڅون وکړ او د انګرېز له وسلوالو پولیسو سره یې نښته وکړه له ډهلي تر لاهوره د اورګاډي پټلۍ باندې په امرتسر او کاسوش کې سخت شورشونه راپورته شول، تر دې چې نظامي حکومت اعلان شو او وګړي یې وځپل.

په ګوجرانواله کې خلکو مسیونري کلیسا او د اورګاډي سټېشن وسوځاوه، په زویرآباد کې خلکو د انګرېزانو پر مهمو تمځایونو بریدونه وکړل او د خلکو او انګرېزانو ترمنځ ډېر اخ و ډب وشو، مګر انګرېزانو د وسلې او عسکرو په زور دغه خوړېدلي او بې‌وسلې وګړي خواره واره کړل او په وچ زور یې وځپل. نو له بمبیي تر پېښوره هندیانو انګرېز ضد فعالیتونه پیل کړل او ان په ډهلي، بمبیي کې یې اورګاډي، پټلۍ او تمځایونه ورانول. احمدآباد کې سخت پاڅونونه وشول او په ډهلي کې انګرېز ضد پېښې وشوې.

نو ځکه انګرېز دولت او د لومړۍ نړیوالې جګړې ګټونکي په خپل ټول زور سره د سروزرو هند د ساتنې لپاره د افغانستان د امپریالېزم ضد انقلاب په مخنیوي او خپلو پسې پښې رالوځې کړې او د بې‌دفاع افغانستان پر ټوله پوله یې د عسکرو سېل راخوشې کړ. په داسې حال کې چې افغان لښکر له زرېپوښو موټرو، چورلکو او د اورګاډي پټلۍ پرته پلي او په اوښانو منزل په منزل د پولې په لور وخوځېدل او د پکتیا په جبهه کې یې په تېرو ډکو اوبو، بې پلونو او ناجوړو لارو جنګي سامانونه او آن د توپ ارابې د لاسونو په زور کشولې، ځکه چې د افغانستان دولتونه په تېرو

اتیا کلونو کې یوازې او یوازې په واکچلونه بوخت و، د هېواد ودانی، جوړونې ته یې نه و ورپام. انګرېز دولت یوازې په نظامي ماشینونو او ګاډیو بسنه نه وه کړې بلکې د افغانستان د انقلابي فعالیتونو د وچولو لپاره یې د جاسوسی دستګاوې هم په کار کړې وې. خو د افغانستان د وګړیو د عمومي ارادې په مخ کې دانګرېزانو دا ټول منفي او اقدامات او غوښتنې نصوار هم نه وې.

زه یم زمری په دې نړی، له ما اتل نشته

په هند و سیند و پر تخار او په کابل نشته

بل په زابل نشته

له ما اتل نشته

د خیبر په جبهه کې چې جګړه ونښته او بیا د دواړو دولتونو ترمنځ اربکو پرېکولو اعلان وشو، د افغانستان په تاریخ کې لومړی ځل د حربي ښوونځي او ښاري ښوونځیو ټولو زده‌کوونکو زموږ د زیاتو نورو هېوادوالو په تېره د کابل خلکو په ګډون د انګرېزانو په ضد لوی لاریون وکړ؛ لاریونوال د انګرېز د سفیر حافظ‌القرآن سیف الرحمن خان د کور مخې ته چې په همدې ځای کې اوسېده، په ستر غرېو تېر شول او دا شعار یې ورکاوه چې: مرده باد انګلیس، زنده باد افغانستانِ مستقل.

زما ضمیر په خلوېښتی کې آزادي غوښتله

مور به ترلم په سېزنې ما به په چیغو ژړل

انګرېز دولت له ډهلي څخه افغان سفیر سردارعبدالرحمن خان چې له پخوانیو مشروطه‌خواهانو څخه و، له ټولې کورنی سره تر ځار لاندې د ډکې نظامي او اشغالي اډې ته له ځان سره راوست او ویې ساته. په دا چې انګرېز دولت د افغانستان په جګړه کې په هندوستان کې د خپلې امپراتوری خطر او د جګړې په جبهه کې د افغانستان د وګړو زړورتیا احساس او کتلي وو، ځکه یې سولې او د افغانستان خپلواکی ته غاړه کېښوده او په ډکه کې یې قوماندانانو له افغان نظربند سفیر سره خبرې اترې پیل کړې وې. په دې اوږدو مذاکراتو کې انګرېزانو د افغانستان د خپلواکی تصدیق ومانه او د دواړو دولتونو د متارکې، روغې‌جوړې او دوستی د ګټو خبرې وکړې. سردارعبدالرحمن خان په کابل کې له شاه سره مذاکره وکړه او د دولت تر پرېکړې وروسته چې د افغانستان د خپلواکی د تصدیق په شرط د انګرېزانو د متارکې وړاندیز له منلو سره ستون شو.

آزادي تر پاچاهیه لا تېری کا

چې د بل تر حکم لاندې شي زندان شي

د غني خان په خبره:

چې ځاځې شنې مې په قبر وي ولاړې

که غلام مړ وم، راځئ توکړئ پرې لاړ

که په خپلو وينو نه وم لمبېدلی

په ما پلیتوئ د جومات غاړې